# د معلِمِ کِتاب

## پېژندګلو

د حضرت سليمان عليه السلام په دې کِتاب کښې مونږ ګورو چې رښتينې خوشحالى صرف او صرف د خُدائ پاک په رضا کښې حاصليږى. د معلِمِ په دې کِتاب کښې په بنيادى موضوع کښې مونږ ګورو چې د خير خوشحالۍ او د زړهٔ د سکون دپاره د انسان جدوجهد بې‌مېوې دے. په انسانى کار کسب، پېسو او مال حال کښې حقيقى سکون نشته. څوک چې تعليم او حکمت حاصلوى نو هغوئ ته داسې سوالونه ملاويږى چې د هغې جواب نهٔ وى. او دې نه مونږ ته دا احساس کيږى چې زمونږ عِلم څومره محدود دے. د ژوند مقصد هله معلوميږى چې د خُدائ پاک سره صحيح تعلق ولرو. د معلِمِ په دې کِتاب کښې د يو ضعيف سړى يعنې معلِم خيالونه دى کله چې هغهٔ د ژوند د مقصد په سوال باندې غور و فکر کولو. هغهٔ په تېر ژوند نظر واچولو او وې کتل چې کار، پېسې، خوشحالى، حکمت او هغه ټول څيزونه چې په ژوند کښې حاصلېدے شى په هغې پسې په منډه وهلو کښې هيڅ فائده نشته. اګر کهٔ دا څيزونه د څهٔ وخت دپاره د مطمئن کېدو باعث ګرځى خو بيا هم په هغه وخت کښې د دې ټولو څيزونو د مطمئن کېدو نه څهٔ فائده نشته ځکه چې د مرګ راتګ يقينى دے. خو بيا هم کهٔ څوک د مالِک خُدائ په يره کښې ژوند تېروى نو هغوئ د خُدائ پاک د نعمتونو نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوند اخستے شی. په خاص توګه ځوانان دې خپل خالق
یاد ساتی کله چې د هغوئ د ژوند هېر وخت د هغوئ په
وړاندې پروت دے. د حفظ کولو دپاره ۱۱:۳ آیت ”خو خُدائ
پاک هر څۀ داسې جوړ کړی دی چې په خپل وخت باندې
ښائسته او مناسب وی. هغه انسانانو له د ابدیت خیال
ورکوی، خو سره د دې مونږ د خُدائ پاک په کار باندې د
اول نه واخله تر آخره پورې پوره نۀ شُو پوهېدلے څۀ چې
هغه کوی.“

## د ژوند مقصد

١ ١ دا د معلِم خبرې دی، چې د داؤد زوئ وو او د
یروشلم بادشاه وو. ٢ هغه معلِم فرمائی، ژوند یو غټ راز
دے، او زمونږ پوهه د دې په حقله ډېره محدوده ده. ٣ په
مخ د زمکې خلق دومره خواری کوی نو د دې نه دوئ تۀ
فائده څۀ ده؟ ٤ پیړۍ په پیړۍ تېرې شی، خو زمکه همېشه
قائمه وی. ٥ نمر راوخېژی او پرېوځی او هغه ځائ ته زر
زر بیا ځی چې د کوم ځائ نه راخیژی. ٦ هوا د جنوب
طرف ته چلیږی، بیا تاو شی او د شمال طرف ته چلیږی، دا
ګېرچاپېره تاوېږی راتاوېږی او ځی راځی. ٧ ټول سیندونه
سمندر ته بهیږی، خو سمندر ډک نۀ شو. ځکه چې د
سیندونو اوبۀ د کوم ځائ نه بهیږی نو هم هلته مسلسل واپس
راځی او بیا د هغه ځائ نه بهیږی. ٨ ټول څیزونه دومره د
خوارۍ ډک دی چې انسان یې بیانولے نۀ شی. نۀ سترګې په
کتلو مړیږی، او نۀ غوږونه په اورېدو ډکیږی. ٩ څۀ چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې وُو دا به بيا هم وى، څهٔ چې شوى دى هغه به بيا هم
کيږى. په مخ د زمکې هيڅ هم نوى نشته. ۱۰ کله کله خلق
وائى، ”ګوره، دا يو نوے څيز دے.“ خو په اصل کښې دا
زوړ وى، يو څيز هم په رښتيا نوے نهٔ دے. ۱۱ هيچا ته ياد
نهٔ دى چې په تېرو وختونو کښې څهٔ شوى وُو او څهٔ چې
اوس کيږى هغه به د راتلونکى وخت خلقو ته ياد نهٔ وى.

## معلِم جواب لټوى

۱۲ زهٔ معلِم په يروشلم کښې د بنى اِسرائيلو بادشاه وم. ۱۳
ما پوره عقل سره تلاش شروع کړو چې زهٔ به حکمت سره
هغه هر څهٔ وګورم او معلوم به يې کړم کوم چې په دُنيا کښې
شوى دى. نو زهٔ دې نتيجې ته ورسېدم چې خُدائ پاک انسان
ته د مشکل مشقت ذمه وارى ورکړې ده چې مصروف يې
وساتى. ۱۴ ما هغه هر څهٔ وليدل چې په مخ د زمکې شوى
دى او زهٔ تا ته وايم، چې دا هر څهٔ بېمعنې دى او هوا پسې
منډې وهل دى. ۱۵ څهٔ چې غلط دى هغه ټيک کېدے نهٔ
شى، او د څهٔ چې کمے دے نو هغه پېدا کېدے نهٔ شى. ۱۶
ما خپل ځان سره ووئيل، ”زهٔ د هغه ټولو نه ډېر زيات
هوښيار يم چا چې زما نه مخکښې په يروشلم بادشاهى کړې
ده. ما ډېر حِکمت او عِلم حاصل کړے دے.“ ۱۷ ما خپل
پوره ذهنى طاقت په دې ولګولو چې حِکمت وپېژنم، او هم په
ليونتوب او بېوقوفتوب پوهه شم، خو ما ته پته ولګېده چې دا
ټول هم هوا پسې منډې وهل دى. ۱۸ ځکه چرته چې حِکمت
زيات وى هلته پرېشانى هم زياته وى، او څوک چې عِلم
زياتوى هغه غمونه زياتوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د دُنیا خوشحالی بېمعنې ده

٢ ١ ما خپل زړۀ کښې ووئیل چې، ”عیش عشرت به
وکړم او ښۀ مزې به وکړم،“ خو پته راته ولګېده چې دا هم
بېمعنې دی. ٢ نو ما ووئیل چې، ”خندا کم عقلتوب دے
او عیش عشرت چا له څۀ ورکوی؟“ ٣ د ډېر سوچ نه پس
ما فیصله وکړه چې د میو په ذریعه ځان په سُر کښې کړم.
او د حکمت په لټون کښې مې کم عقلتوب شروع کړو. ما
غوښتل چې معلوم کړم چې د انسان په دوه څلور ورځې
ژوند کښې په مخ د زمکې څۀ کول فائده مند دی. ٤ ما
لوئ لوئ کارونه وکړل. ما د ځان دپاره کورونه جوړ کړل او
د انګورو باغونه مې وکَرل. ٥ ما د ځان دپاره چمنونه او
باغونه جوړ کړل، او په هغې کښې مې هر قِسمه د مېوو ونې
ولګولې، ٦ ما تالابونه جوړ کړل چې د هغې په ذریعه دا
ډېرې ونې اوبۀ کوم. ٧ ما ډېر غلامان او وینځې واخستلې،
او زما په کور کښې هم غلامان پېدا شوی وُو. ما سره دومره
زیات څاروی وُو چې په یروشلم کښې پخوانی یو بادشاه سره
هم نۀ وُو. ٨ ما د خپل ځان دپاره سپین زر، سرۀ زر، او د
بادشاهانو او صوبو خزانې راټولې کړې. ما سره سندرغاړی
سړی او ښځې وې، او ما سره نورې داسې ډېرې ښائسته
وینځې وې چې سړے یې ارمان کوی. ٩ نو داسې زۀ د
هغه ټولو نه لوئ سړے شوم څوک چې زما نه مخکښې په
یروشلم کښې تېر شوی وُو، او ما خپل حِکمت جاری ساتلے
وو. ١٠ ما چې څۀ هم غوښتل نو هغه ما اخستی وُو. ما د
خپل ځان نه د یوې خوشحالئ اِنکار هم نۀ وو کړے. ما چې
کوم محنت کړے وو نو زۀ په هغې باندې خوشحاله وم، او دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالی زما د هغه محنت اِنعام وو. ١١ خو ځنګه چې ما
هغه هر څۀ ته وکتل د څۀ حاصلولو دپاره چې ما ډېر محنت
کړے وو، نو دا هر څۀ بې‌معنې ؤو، داسې لکه چې هوا پسې
منډې وهی. او په مخ د زمکې د هيڅ کار هم څۀ فائده نۀ وی.
١٢ نو ما فېصله وکړه چې په حِکمت، کم عقلتوب او په
ليونتوب غور وکړم. نو زۀ پوهه شوم چې کوم کس به د
بادشاه د وفات نه پس په تخت کښېنی نو هغه به صرف د تېر
شوی بادشاه په شان حکومت کوی. ١٣ ما وکتل چې ځنګه
رڼا د تيارې نه ښۀ ده نو داسې حِکمت د کم عقلتوب نه ښۀ
دے. ١۴ ځکه چې هوښيارانو ته دا پته وی چې هغوئ چرته
روان دی، خو کم عقلو ته پته نۀ لګی ځکه چې هغوئ په تيارۀ
کښې روان وی. خو ما ته دا پته هم ولګېده چې زمونږ د
دواړو اَنجام يو دے. ١۵ ما د ځان سره ووئيل، ”د کم عقل
په شان اَنجام به زما هم وی، نو بيا زما د ټول حِکمت فائده
څۀ ده؟ دا هر څۀ بې‌معنې دی.“ ١٦ ځکه چې هوښيار او کم
عقل دواړه به مری. هوښيار به د کم عقل نه تر زيات وخته
پورې ياد نۀ شی ساتلے. په راتلونکی وخت کښې به دواړه
هېر کړے شی. ١٧ نو ما د ژوند نه نفرت شروع کړو، ځکه
چې دې ما له په دُنيا کښې د تکليف نه بغېر هيڅ هم نۀ ؤو
راکړی. دا هر څۀ بې‌معنې ؤو، هسې هوا پسې منډې وهل وو.
١٨ ما چې په مخ د زمکې د هر څۀ دپاره محنت کړے وو نو
د هغې نه زما نفرت پېدا شو، ځکه چې دا هر څۀ به هغۀ ته
پاتې شی چې زما نه پس به راځی. ١٩ او چا ته پته ده چې
هغه به هوښيار وی او کۀ کم عقل؟ خو چې ما د څۀ دپاره
محنت کړے دے نو هغه هر څۀ به د هغۀ شی، څۀ چې ما په
خپله هوښيارتيا په مخ د زمکې ګټلی دی نو هغه هر څۀ به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ وی. دا ټول بېمعنې دی. ۲۰ ما چې په مخ د زمکې کوم
سخت محنت کړے وو د هغې نه زهٔ مايوسه شوم او زما زړهٔ
همت بائيلو. ۲۱ ځکه چې تهٔ به خپل کار په ډېر حِکمت،
پوهې او مهارت سره وکړې او بيا به دا هر څهٔ هغه چا ته
پرېږدې چې هغهٔ د دې دپاره هيڅ هم نهٔ وی کړی. دا بېمعنې
دی او لويه بد قسمتی ده. ۲۲ نو په مخ د زمکې انسان ته د
سخت محنت او پرېشانئ نه څهٔ حاصلېږی؟ ۲۳ هره ورځ
هغه کړېږی او د خپل کار دپاره پرېشانه وی. او د شپې هم
ورته ذهنی سکون نهٔ ملاوېږی. دا هر څهٔ بېمعنې دی. ۲۴ د
انسان دپاره د ټولو نه ښهٔ خبره دا ده چې خوراک څښاک
کوی او د خپل محنت نه خوشحاله وی. خو ما ته دا پته هم
ولګېده چې دا څيزونه د خُدائ پاک له طرف نه دی. ۲۵
ځکه چې صرف د خُدائ پاک په مدد سره مونږ خوراک
کولے شُو او د ژوند نه مزې اخستے شُو. ۲۶ خُدائ پاک
هغه چا له حِکمت، پوهه او خوشحالی ورکوی څوک چې
هغه رضا کوی. خو خُدائ پاک ګناهګارو له هدف ورکوی
چې دولت راټول کړی او بيا يې ترې نه واخلی او هغه چا له
يې ورکړی چې څوک هغه رضا کوی. نو دا هم بېمعنې دی.
دا داسې دی لکه چې څوک عبث منډې وهی.

## د هر څيز دپاره خپل وخت مقرر دے

۳ ۱ د هر څيز خپل وخت وی، د هر کار دپاره په مخ د
زمکې وخت مقرر وی.

۲ د پيدايښت او مرګ دپاره وخت مقرر وی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د فصل کَرلو او د رېبلو دپاره وخت مقرر وی،

٣ د مړ کولو او روغولو دپاره وخت مقرر وی،

د راغورزولو او د آبادولو دپاره وخت مقرر وی.

٤ د غم دپاره او د خوشحالئ دپاره وخت مقرر وی،

د ماتم دپاره او د ګډېدو دپاره وخت مقرر وی،

٥ د کاڼو خورولو او راغونډولو دپاره وخت مقرر وی،

د غاړه وتلو او نۀ غاړه وتلو دپاره وخت مقرر وی.

٦ د تلاش کولو او د تلاش پرېښودلو دپاره وخت مقرر
وی،

د محفوظ ساتلو دپاره او د غورزولو دپاره وخت مقرر
وی،

٧ د شلولو او د ګنډلو دپاره وخت مقرر وی،

د خاموشئ او د خبرو کولو دپاره وخت مقرر وی.

٨ د مينې کولو دپاره او د نفرت کولو دپاره وخت مقرر
وی،

د جنګ دپاره او د امن دپاره وخت مقرر وی.

٩ يو کاريګر د خپل محنت نه څۀ فائده اخلی؟ ١٠ ما هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بوج کتلے دے کوم چې خُدائ پاک په مونږ باندې اېښے
دے. ۱۱ خو خُدائ پاک هر څۀ داسې جوړ کړی دی چې په
خپل وخت باندې ښائسته او مناسب وی. هغه انسانانو له د
ابدیت خیال ورکوی، خو سره د دې مونږ د خُدائ پاک په
کار باندې د اول نه واخله تر آخره پورې پوره نۀ شُو
پوهېدلے څۀ چې هغه کوی. ۱۲ نو زۀ پوهه شوم چې د ټولو
نه ښۀ خبره دا ده چې د ژوند نه مونږ خوندونه او مزې واخلو
تر کومې پورې چې مونږ ژوندی یُو. ۱۳ مونږ ټولو له په کار
دی چې خوراک څښاک کوُو او په خپله خوارۍ مزدورۍ
کښې خوشحاله اوسو. دا د خُدائ پاک نعمتونه دی. ۱۴ ما
ته پته ده څۀ چې خُدائ پاک کوی نو هغه د همېشه دپاره پاتې
کېدونکی وی. په هغې کښې نۀ څۀ کمے کېدے شی او نۀ څۀ
زیاتے. او دا هر څۀ خُدائ پاک ځکه کوی چې خلق د هغۀ نه
یرېږی. ۱۵ هر څۀ چې اوس کیږی هغه پخوا هم شوی دی،
او څۀ چې به په آئنده کښې کیږی، هغه پخوا هم شوی دی.
ځکه چې خُدائ پاک دا هر څۀ بیا بیا دوباره کوی.

## په مخ د زمکې بې‌اِنصافی

۱۶ د دې نه علاوه ما دا هم وکتل، چرته چې مونږ د اِنصاف
توقع کوله هلته بدعملی وه، چرته چې مونږ د صداقت توقع
کوله هلته بدعملی وه. ۱۷ ما په خپل زړۀ کښې ووئیل،
خُدائ پاک به د بدعملو او د صادقانو عدالت کوی، ځکه چې
هر یو خیز او هر یو کار دپاره یو وخت مقرر دے. ۱۸ او ما
دا هم په خپل زړۀ کښې ووئیل، چې خُدائ پاک د انسانانو
آزمېښت کوی، چې مونږ ته دا وښائی چې مونږ د ځناورو نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښۀ نۀ يُو. ۱۹ لنډه دا چې، د انسانانو او ځناورو دواړو
اَنجام يو دے، انسان او ځناور دواړه ساه اخلى، او دواړه
مرى. انسان د ځناور نه بهتر نۀ دے، دا هر څۀ بېمعنې دى.
۲۰ مونږ ټول د مرګ طرف ته روان يُو، مونږ ټول د خاورو
نه جوړ يُو او بيا به خاورو ته ځُو. ۲۱ څوک دا يقين سره
وئيلے شى چې د مرګ نه پس د انسان روح بره ځى او د
ځناور روح لاندې زمکې ته ځى؟ ۲۲ نو بيا ما ته دا پته
ولګېده چې د دې نه ښۀ خبره نشته چې په خپل محنت باندې
خوشحاله اوسو. د دې نه بغېر بله لار نشته. هيچا ته پته نۀ
لګى چې د مرګ نه پس به څۀ کيږى.

۴ ۱ ما يو ځل بيا نظر واچولو او هغه ټول ظلم مې وليدو
کوم چې په مخ د زمکې کيږى. ګوره د مظلومانو وښکې
څاڅى خو د تسلۍ ورکولو والا هيڅوک نۀ وى. ظالمان ډېر
زورَور دى او مظلومان ډېر بېوسه دى. ۲ نو ما هغه خلق
بختور وګڼل کوم چې مړۀ شوى دى، د هغه خلقو نه کوم چې
تر اوسه پورې ژوندى دى. ۳ خو د ټولو نه بختور هغه دى
کوم چې لا پيدا شوى نۀ دى، چې هغوئ هغه بدعملى نۀ ده
ليدلې کومه چې په مخ د زمکې کيږى. ۴ بيا ما دا هم وکتل
چې ټول خلق دې دپاره محنت کوى او د اُستاذۍ نه کار
اخلى ځکه چې هغوئ د يو بل سره حسد کوى. خو دا
بېمعنې وى. دا داسې دى لکه چې څوک هوا پسې منډې
وهى. ۵ کم عقل د لاس مشقت پرېږدى او خپل ځان د
لوږې وژنى. ۶ خبر دے چې لږ وى خو چې د آرام سره
وى، نه چې ډېر وى او د بېحده محنت سره وى. حد نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيات محنت هوا پسې منډې وهل دی. ٧ ما په دُنيا کښې
نور څۀ هم ليدلی دی چې هغه بې‌معنې دی. ٨ دا د يو سړی
خبره ده څوک چې بلکل يواځې وو. د هغۀ نۀ بچی وُو او نۀ
يې خپلوان وُو. هغۀ به هر وخت کار کولو، خو بيا هم هغه په
خپله ګټه باندې مطمئن نۀ وو. هغۀ د خپل ځان نه تپوس
وکړو، ”د چا دپاره زۀ دومره سخت محنت کوم او خپل ځان
د خوشحالئ نه محروم ساتم؟“ دا هم بې‌معنې دی او د
افسوس خبره ده. ٩ د يو نه دوه کسان ښۀ وی، ځکه چې
هغوئ د خپل محنت نه ښۀ فائده اخستے شی. ١٠ کۀ په
هغوئ کښې يو کس وغورزيږی، نو هغه دويم به يې راپاڅوی،
خو کۀ څوک يواځې وی او وغورزيږی، نو په هغۀ افسوس،
ځکه چې داسې به څوک نۀ وی چې هغه راپاڅوی. ١١ هم
داسې، کۀ يخنی وی او دوه کسان يو ځائ څملی نو ګرم به
شی، خو يو کس به يواځې څنګه ځان ګرم کړی؟ ١٢ خو
کۀ يو کس يواځې وی نو شکست به وخوری، خو کۀ دوه
کسه يو ځائ شی نو مقابله کولے شی. د دريو مزو پړے په
آسانه نۀ شليږی. ١٣ يو غريب خو هوښيار ځوان ښۀ دے د
هغه بوډا او کم عقل بادشاه نه، څوک چې د چا نصيحت ته
غوږ نۀ ايږدی. ١٤ دغه ځوان د غريبئ نه د کاميابئ طرف ته
تلے شی، اګر کۀ هغه قيدی وو خو هغه بيا هم بادشاه
جوړيدے شی. ١٥ بيا ما وکتل چې خلق يو بل ځوان پسې
روان وُو، څوک به چې د هغۀ په ځائ بادشاه شی. ١٦
بې‌شميره خلق د هغۀ نه ګېرچاپېره وُو، خو بيا يوه بله پيړئ
راوچته شوه او هغه يې هم رد کړو. نو دا څيزونه بې‌معنې دی،
دا داسې دی لکه چې څوک هوا پسې منډې وهی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هوښیارۍ خبرې کول

**۵** ۱ کله چې تهٔ د خُدائ پاک کور ته ځې نو چې څهٔ کوې
هغه ډېر خیال سره کوه. د اورېدلو دپاره د خُدائ پاک
حضور ته تلل بهتر دی د کم عقلانو په شان د قربانو پېش
کولو نه، خُدائ پاک ته بېسوچه نذرانې پېش کول بدعملی ده.
۲ د خُدائ پاک په حضور کښې په خبرو کولو کښې تېزی
مهٔ کوه، د هغهٔ په وړاندې په څهٔ بیان کولو کښې جلدی مهٔ
کوه. ځکه چې هغه په آسمان کښې دے او تهٔ په زمکه باندې
یې، نو د ضرورت نه زیاتې خبرې مهٔ کوه. ۳ څومره چې
تهٔ پرېشانه یې، نو هغه هومره به خراب خوبونه وینې او چې
څومره زیاتې خبرې کوې، نو هغه هومره به کم عقلې خبرې
درنه وځی. ۴ کله چې تهٔ خُدائ پاک ته یوه منښته ومنې،
نو چې څومره زر کېدے شی نو دا منښته پوره کوه. هغه د
کم عقلو خلقو نه خوشحال نهٔ وی. کومه منښته چې ومنې نو
هغه سر ته رسوه. ۵ چې یوه منښته ومنې او سر ته یې نهٔ
رسوې نو د داسې منښتې د منلو نه نهٔ منل ښهٔ دی. ۶ د
خپلو خبرو په وجه ځان مهٔ ګناهګارَوه، او اِمام ته مهٔ وایه
چې ما په غلطۍ سره منښته منلې وه. نو په دې وئیلو سره
خُدائ پاک مهٔ غصه کوه چې ستا ټول محنت مشقت تباه
کړی. ۷ خو ډېر خوبونه او ډېرې خبرې بېمعنې دی، په
ځائ د دې د خُدائ پاک نهووېرېږئ.

## ژوند بېفائدې دے

۸ چې کله تهٔ وګورې چې په یوه علاقه کښې غریبانانو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې ظلم زياتے کيږی او هغوئ ته صداقت او اِنصاف او د
هغوئ حقُونه نۀ ملاويږی نو په دې باندې مۀ حېرانېږه. د هر
آفسر دپاسه بل آفسر وی او د هغوئ د سر دپاسه نور آفسران
وی. ۹ تر دې چې بادشاه هم د دې مُلک نه خپل مفاد
حاصلوی. ۱۰ څوک چې د پېسو سره مينه لری، نو هغه به
هيڅکله په پېسو موړ نۀ شی. څوک چې د دولت سره مينه
لری، نو هغه به هيڅکله په دولت موړ نۀ شی. ځکه چې دا هم
بےمعنې دی. ۱۱ چې څومره پېسې زياتې وی، نو دومره به د
دې د خوړلو خلق هم زيات وی. دغه دولت ته د کتلو نه
سيوا مالِک ته څۀ حاصل شول؟ ۱۲ محنت مزدوری کولو
والا کۀ لږه خوړلې وی او کۀ ډېره خو ښۀ د سکون خوب
کوی، خو د مالداره سړی دولت هغه خوب ته نۀ پرېږدی.
۱۳ ما په مخ د زمکې يو بل ډېر خراب کار ليدلے دے.
څوک چې د ځان دپاره پېسې جمع کوی نو هغه وروستو هم
د هغوئ دپاره د نقصان باعث شی، ۱۴ ځکه چې هغوئ دا
ټولې پېسې په يو ناکاميابه کاروبار کښې بائيلی او په آخر
کښې د هغوئ سره هيڅ هم نۀ وی چې خپلو بچو ته يې
پرېږدی. ۱۵ لکه څنګه چې ماشوم دې دُنيا ته لغړ او خالی
لاسونه راځی، هم داسې به دې دُنيا نه خالی لاسونه ځی. هغه
د ټول محنت باوجود هم د ځان سره هيڅ هم نۀ شی وړلے.
۱۶ دا هم ډېره د افسوس خبره ده، چې څنګه انسان دُنيا ته
راځی نو هغه شان ځی. هغۀ فائده څۀ وکړه؟ چې عبث هوا
پسې يې منډې ووهلې؟ ۱۷ هغۀ خپل ټول ژوند په تيارۀ، په
پرېشانئ، په غصه او په بيماری کښې تېر کړو. ۱۸ نو زۀ دې
نتيجې ته ورسېدم چې د انسان دپاره ښۀ او بهتره دا ده چې
څومره ورځې خُدائ پاک هغۀ له ورکړې دی په هغې کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوراک ښکاک کوی او په مخ د زمکې د خپل سخت محنت
نه خوند اخلی. ځکه چې هم دا زمونږه اجر دے. ۱۹ کۀ
خُدائ پاک چا له دولت او جائيداد ورکوی او د دې قابل يې
جوړوی چې د دې نه خوند واخلی، او دا خپل نصيب وګڼی
او محنت سره سره خوشحاله هم وی، نو دا د خُدائ پاک د
طرف نه اِنعام دے. ۲۰ حقيقت کښې خُدائ پاک هغوئ په
خوشحالئ کښې دومره مصروف ساتی چې هغوئ سره د
انديښنو دپاره وخت هم نۀ وی.

۶ ۱ په مخ د زمکې ما يوه بله خرابه خبره ليدلې ده او دا
په انسان باندې يو دروند بوج دے. ۲ دا د هغه کس خبره
ده چا له چې خُدائ پاک مال دولت، عزت او جائيداد
ورکړی او هغه هر څۀ ورکړی چې د هغۀ زړۀ يې غواړی، خو
خُدائ پاک يې د دې په خوند پوهه نۀ کړی او د هغۀ په ځائ
يو پردے کس په دې باندې مزې وکړی. دا بې‌معنې دی او
لوئ مصيبت دے. ۳ کۀ د يو سړی سل بچی وی او تر
بوډاتوبه پورې ژوندے وی، خو کۀ په ژوند کښې څۀ
خوشحالی ونۀ وينی او په عزت سره دفن نۀ شی نو زۀ خو به
دا وايم چې د دۀ نه خو هغه ماشوم ښۀ دے چې مړ پيدا
شوے وی. ۴ د داسې پيدائشی مړ ماشوم دُنيا ته راتګ او
تګ بې‌معنې دے، مړګ د هغۀ شناخت زمونږ نه پټ ساتی.
۵ اګر چې هغۀ نمر هم نۀ دے ليدلے او نۀ ورته دا پته
لګيدلې ده چې ژوند څنګه وی، خو بيا هم هغۀ ته د هغه
مالداره سړی نه زيات آرام حاصل دے. ۶ فرض کړه کۀ
هغه دوه زره کاله ژوندے وی خو چې په ژوند کښې يې څۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالي نۀ وی، نو څۀ فائده؟ آخر مرګ خو هر ژوندی له شته. ۷ انسان ټول محنت د خوراک پیدا کولو دپاره کوی، خو د هغۀ لوږه هیڅکله نۀ ختمیږی. ۸ هوښیار کس د کم عقل نه په څۀ فائده مند وی؟ کۀ غریب کس خلقو سره مناسب سلوک کوی نو په دې کښې د هغۀ دپاره څۀ فائده ده؟ ۹ څۀ چې مونږ سره وی د هغې نه خوند اخستل ښۀ دی په ځائ د دې چې د هغه څیزونو خواهش ولرو چې مونږ سره نۀ وی. دا بې‌معنې دی، او دا داسې دی لکه چې هوا پسې منډې وهی. ۱۰ هر څۀ چې کیږی هغه د تقدیر لیک وی. دا ډیر د پخوا نه معلومه وه چې د هر یو کس سره به څۀ کیږی. نو خُدائ پاک سره د دې موضوع په حقله بحث کول فضول دی. ۱۱ څومره چې خبرې زیاتیږی، نو دومره بې‌مطلبه کیږی، نو د بحث نه فائده څۀ؟ ۱۲ نو چا ته څۀ پته وی چې زمونږ په دې لنډ او بې‌فائدې ژوند کښې، زمونږ دپاره څۀ ښۀ دی، داسې ژوند چې د سوری په شان تیریږی؟ چا ته دا پته ده چې د مرګ نه پس به څۀ کیږی؟

## د ژوند حِکمت

۷ ۱ نیک نامی د قیمتی عطرو نه بهتره ده، او د مرګ ورځ د پیدا کیدو د ورځې نه بهتره ده. ۲ ښۀ دا ده چې هغه کور ته لاړ شُو چرته چې ماتم کیږی نه چې هغه کور ته لاړ شُو چرته چې دعوت وی، ځکه چې ژوندو خلقو له دا خبره په ذهن کښې کښېنول په کار دی چې مرګ زمونږ د ټولو انتظار کوی. ۳ د خندا نه غم ښۀ وی، غمژن مخ د زړۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بهترۍ سبب جوړېږی. ۴ هوښيار کس د مرګ په حقله ډېر
فکر کوی، خو کم عقل صرف د عيش عشرت په حقله فکر
کوی. ۵ ښهٔ خبره دا ده چې هوښيار دې ورَتِی په ځائ د
دې نه چې د کم عقلو خلقو د خوشامندۍ سندرې واورې.
۶ د کم عقل خندا داسې وی لکه چې دېګچې لاندې په اور
کښې ازغی ټسيږی. دا شور خو جوړوی خو هيڅ مقصد يې
نهٔ وی. ۷ ناروا ګټه هوښيارو خلقو نه کم عقل جوړوی، او
رشوت اخستل ضمير خرابوی. ۸ د څهٔ سر ته رسول د
هغې د شروع نه ښهٔ وی، او د غرور کولو نه صبر کول ښهٔ
دی. ۹ خپله غصه په قابو کښې ساته، ځکه چې د کم عقل
دماغ د غصې کور وی. ۱۰ هيڅکله داسې مهٔ وايه، "تېر
وخت د اوس نه ښهٔ وو." دا خبره کول عقلمندی نهٔ ده. ۱۱
هوښيار جوړېدل ښهٔ دی. دا داسې دی لکه چې ميراث
واخلې. په دُنيا کښې د هر چا دپاره عقلمند جوړېدل فائده
مند دی. ۱۲ عقلمندی به دې د پېسو په شان حِفاظت کوی.
او د عقلمندۍ خاص فائده دا ده چې هغه خپل مالِک محفوظ
ساتی. ۱۳ د خُدائ پاک په کارونو باندې فکر وکړه، څهٔ چې
هغهٔ کاږهٔ جوړ کړی وی نو هغه څوک نېغولے شی؟ ۱۴ په
ښهٔ حالاتو کښې خوشحاله اوسئ، خو چې کله تکليف راځی،
نو ياد ساته چې خوشحالی او تکليف، دواړه خُدائ پاک
راولی، او هيچا ته پته نهٔ لګی چې سبا به څهٔ کيږی. ۱۵ ما په
خپل بې‌فائدې ژوند کښې هر څهٔ ليدلی دی، يو صادق باوجود
د خپل صداقت نه هم تباه شی او يو بدعمله په خپله بدعملۍ
کښې اوږد عُمر تېر کړی. ۱۶ د ځان نه ډېر ايمانداره مهٔ
جوړوه او د ځان نه ډېر هوښيار سړے مهٔ جوړوه، ولې ځان
تباه کوې؟ ۱۷ خو دې سره د ځان نه ډېر بدعمله يا کم عقل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم مهٔ جوړوه، نو په داسې کولو سره ولې خپل ځان د وخت
نه مخکښې په چا وژنې؟ ۱۸ ښهٔ خبره دا ده چې دا دواړه
خبرې هېرې نهٔ کړې، ځکه څوک چې د خُدائ پاک نه
یرېږی، هغوئ به د دواړو خطرو نه بچ پاتې شی. ۱۹ حِکمت
هوښیار سړے د ښار د لسو حکمرانانو نه زیات طاقتور
جوړوی. ۲۰ په دې دُنیا کښې داسې هیڅ څوک صادق نشته
چې هغه همېشه ښهٔ کوی او هیڅکله ګناه نهٔ کوی. ۲۱ خلق
چې څهٔ وائی نو هغه هر څیز زړهٔ ته مهٔ اچوه، ګنې وابه ورې
چې ستا نوکر تا پسې کنځل کوی. ۲۲ او تا ته پته ده چې
څو څو ځلې تا په خپله نورو خلقو ته کنځلې کړې دی. ۲۳
ما د حِکمت اصُول استعمال کړل چې په دې هر څهٔ باندې
پوهه شم، خو دا زما دپاره ډېر ګران وُو، ما نهٔ شول کولے.
۲۴ هر څهٔ چې موجود دی هغه ډېر ژور او زما د پوهې نه
بهر دی. څوک په هر څهٔ پوهېدلے شی؟ ۲۵ ما کلکه فېصله
وکړه چې د حِکمت مطالعه وکړم او د څیزونو په اسبابو
باندې پوهه شم، او چې زده کړم چې بدعملی څومره
بېوقوفتوب دے، او بېوقوفتوب څومره پاګلتوب دے.

۲۶ ما ته پته ولګېده چې ګېروونکې ښځه د مرګ د سختئ نه
هم لوئ دام دے. د هغې شوق د دام په شان دے او د هغې
غېږه د زنځیرونو په شان ده. کوم سړے چې خُدائ پاک
رضا کوی نو هغه به ترې نه خلاص وی، خو ګناهګار به د
هغې په جال کښې راګېرېږی. ۲۷ معلِم وفرمائیل چې زهٔ دې
نتیجې ته ورسېدم، کله چې ما په دې موضوع باندې د هر
طرف نه غور و فکر وکړو. ۲۸ اګر چې ما بار بار لټون
کولو خو ما هغه څهٔ پیدا نهٔ کړل څهٔ چې ما لټول. ما په زړو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کسانو کښې يو نېک سړے پېدا کړو، خو يوه نېکه ښځه مې
پکښې پېدا نۀ کړه. ۲۹ نو زۀ صرف دې نتيجې ته ورسېدم
چې خُدائ پاک انسان پېدا کړے دے چې نېک وى، خو هغه
په نورو ډېرو منصوبو پسې ځى.

۸ ۱ څوک د هوښيار په شان دے؟ څوک د خبرو د
صحيح تشريح عِلم لرى؟ حِکمت د هغوئ مخونه روښانه
کوى او د هغوئ سخت مزاج نرموى.

## د بادشاه حُکم منل

۲ زۀ وايم، د بادشاه حُکم منه، ځکه چې تا د خُدائ پاک
سره د دې وعده کړې ده. ۳ د بادشاه په حضور کښې د
تلو نه جلدى مۀ کوه. او په بد کار کښې حِصه مۀ اخله، ځکه
چې بادشاه درسره څۀ غواړى هغه کولے شى. ۴ ځکه چې
د بادشاه خبره وزن وى او هيڅ څوک ترې نه دا تپوس نۀ
شى کولے چې، ”ته څۀ کوې؟“ ۵ هغه کس څوک چې
شاهى حُکم منى هغوئ ته به سزا نۀ ملاويږى. هوښيار کس د
هر څيز په وخت او سبب باندې پوهيږى. ۶ ځکه چې د هر
څيز دپاره يو وخت او يوه طريقه وى، خو انسان له ډېر
غمونه برداشت کول په کار دى. ۷ هيچا ته پته نشته چې
څۀ به کيږى، نو بيا څوک دا وئيلے شى چې په مستقبل کښې
څۀ کيدو والا دى؟ ۸ هيڅ څوک خپل ځان د مرګ نه نۀ
شى بچ کولے او نۀ څوک د اجل ورځ وروستو کولے شى.
دا يو داسې جنګ دے چې مونږ ترې نه نۀ شُو خلاصېدلے،
او بدعملى يو بدعمله کس د مرګ نه نۀ شى بچ کولے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# بدعمله او صادق خلق

۹ ما ټولو ځيزونو ته غور سره وکتل او په مخ د زمکې چې
څۀ کيږی د هغې په حقله مې سوچ وکړو، خلق په نورو خلقو
باندې اختيار لری او ورته نقصان رسوی. ۱۰ آو، ما وليدل
چې بدعمله د عزت سره ښخ شوی وُو او هغوئ به د خُدائ
پاک مقدس کور ته تلل راتلل، خو چې په کومو ښارونو کښې
هغوئ بدعملی کوله نو هلته خلقو د هغوئ صِفت بيانولو. دا
هم بې‌معنې دی. ۱۱ د بدو عملونو سزا زر نۀ ورکولے
کيږی، نو ځکه د خلقو زړونه بدعملۍ ته تيار دی. ۱۲ د يو
ګناهګار نه سل ځله ګناه کيږی خو بيا هم تر ډېره وخته پورې
ژوندے وی. بې‌شکه ما ته دا هم پته ده چې کوم خلق د خُدائ
پاک نه يريږی هغوئ به په خير خيريت سره ژوند کوی، يعنې
هغه خلق د چا په زړۀ کښې چې د خُدائ پاک يره وی. ۱۳
او د بدعمله خلقو به خير نۀ وی او نۀ به يې ژوند اوږد وی. او
دا ځکه چې هغوئ د خُدائ پاک نه نۀ يريږی. ۱۴ خو په مخ
د زمکې يوه بله خبره هم ده چې بې‌معنې ده. ښو خلقو ته
داسې سزا ملاويږی لکه چې هغوئ بدعمله وی او بدعمله
خلقو ته داسې اجر ملاويږی لکه چې هغوئ ښۀ خلق وی. نو
زۀ تاسو ته دا وايم چې دا بې‌معنې دی. ۱۵ نو زما مشوره دا
ده چې مونږ له د ژوند نه خوند اخستل په کار دی، ځکه چې
په دې ژوند کښې هم دا يوه مزه ده چې خوراک څښاک کوُو
او خوشحاله اوسو. نو داسې سخت محنت، کوم چې په مخ
د زمکې خُدائ پاک مونږ له راکړے دے هغې سره سره څۀ
لږه خوشحالی هم وکړُو. ۱۶ کله چې ما پوره کوشش وکړو
چې هوښيار شم او په هغې کار غور وکړم چې خلق يې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمکې په مخ کوی، نو ما وکتل چې د داسې محنت په وجه
هغوئ شپه او ورځ خوب نۀ شی کولے. ۱۷ نو ما ته پته
ولګېده چې خُدائ پاک په دُنیا کښې څۀ کوی نو هیچا ته هم د
هغې پته نۀ لګی. کېدے شی چې یو هوښیار کس دا دعویٰ
وکړی چې زۀ په دې پوره پوهه شوم، خو دا به داسې نۀ وی،
هغه د دې اَنجام ته نۀ شی رسېدے.

## مرګ هر چا له راځی

۹ ۱ اوس ما د دې هر څۀ مطالعه وکړه او دې نتیجې ته
ورسېدم چې صادقان او هوښیار خلق چې هر څۀ کوی هغه
د خُدائ پاک په لاس کښې دی. هغوئ ته دا پته نۀ لګی چې
خُدائ پاک به یې قبلوی او کۀ رد کوی. دا هر څۀ به په
راتلونکی وخت کښې کیږی. ۲ د صادق او د بدعمله، د ښۀ
او د بد، د پاک او د ناپاک، هغه خلق چې خُدائ پاک ته
قربانئ پېش کوی یا هغه خلق چې قربانئ نۀ پېش کوی، ټولو
سره قسمت یو شان معامله کوی. د یو ښۀ کس او د ګناهګار
یو شان اَنجام وی، د قسم خوړلو والا او د قسم نۀ خوړلو والا
دواړو یو منزل دے. ۳ دا یو ډېر لوئ مصیبت دے چې په
مخ د زمکې کیږی، د هر ژوندی هم یو قِسمت دے یعنې
مرګ. د دې نه علاوه، د ټولو خلقو زړونه د بد کارئ نۀ ډک
دی او د ژوندون په دوران کښې د هغوئ په زړونو کښې
بېوقوفتوب وی او بیا دوئ مړۀ شی. ۴ خو څوک چې تر
اوسه پورې په ژوندو کښې شریک دی د هغوئ اُمید وی،
ځکه چې یو ژوندے سپے د مړ ازمری نه ښۀ دے. ۵ یقیناً

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ژوندو ته خو دومره پته وی چې هغوئ به مری. خو مړو
ته هيڅ پته نۀ لګی. هغوئ ته نور اجر نۀ ملاويږی، او د هغوئ
يادونه ختم شی. ٦ د هغوئ مينه، نفرت او غيرت، هر څۀ
ډير مخکښې ختم شوی دی. په مخ د زمکې چې څۀ کيږی نو
هغوئ به هيڅکله په کښې برخه وانۀ خلی. ٧ نو بيا
خوشحالۍ سره مے څښه او خپل خوراک کوه. ځکه چې
خُدائ پاک د دې هر څۀ اجازت ورکړے دے. ٨ هر
وخت سپينې جامې اغونده او تيل لګوه. ٩ د خپلې ښځې
سره چې تۀ ورسره مينه کوې د ژوند نه خوند اخله. په مخ د
زمکې په فانی ژوندون کښې چې خُدائ پاک تا له څومره
ورځې درکړې دی هغه هم دغه شان تېروه. ځکه چې په مخ د
زمکې ستا د محنت مشقت په بدل کښې هم دغه څۀ دی چې
ستا په نصيب کښې دی. ١٠ تۀ چې هر څۀ کولے شې هغه
پوره د زړۀ نه کوه، ځکه چې چرته تۀ روان يې يعنې قبر ته،
هلته به نۀ کار وی او نۀ منصوبې، نۀ به عِلم وی او نۀ
حِکمت. ١١ ما ته په دُنيا کښې د يو بل څيز هم پته ولګېده
چې تېزه منډه وهونکی هميشه د منډې لوبه نۀ ګټی او تکړه
جنګيالی هميشه جنګ نۀ شی ګټلے. هوښيار خلق هر وخت
په رزق ماړۀ نۀ وی، قابل خلق هميشه نۀ مالداره کيږی او
تعليم يافته خلق تل په ژوند کښې کامياب نۀ وی. هر څۀ په
وخت او په بخت باندې منحصر وی. ١٢ انسان ته هيڅکله
دا پته نۀ لګی چې په هغۀ به سخت وخت کله راځی. لکه
څنګه چې کبان په جال کښې او مارغان په دام کښې اچانک
راګير شی، نو داسې به مرګ انسان سمدستی راګير کړی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حِکمت د کم عقلتوب نه ښهٔ دے

۱۳ ما ته په مخ د زمکې د حِکمت يو بل مثال مِلاو شوے
دے او دا ما ته ډېر زيات ښهٔ ښکارى. ۱۴ يو وړوکے ښار
وو چې آبادى يې لږه وه. يو طاقتور بادشاه په دې باندې
حمله وکړه. هغه ښار يې محاصره کړو او په دېوالونو باندې
د اوړېدو تيارے يې شروع کړو. ۱۵ خو په هغه ښار کښې يو
غريب خو هوښيار کس وو. هغهٔ په خپلې هوښيارتيا سره هغه
ښار بچ کړو. خو وروستو هيچا هغه ياد نهٔ کړو. ۱۶ نو زهٔ
وايم چې حِکمت د طاقت نه ښهٔ دے، خو د غريب سړى
هوښيارتيا ته سپک کتلے شى، هيڅوک د هغهٔ خبرو ته پام نهٔ
کوى. ۱۷ ښهٔ خبره دا ده چې د يو هوښيار کس په مزه
خبرو ته غوږ ونيسې په ځائ د دې نه چې د کم عقلانو په
مجلس کښې د بادشاه چغې واورې. ۱۸ حِکمت د جنګ د
وسلو نه طاقتور دے، خو يو ګناهګار کس ډېر زيات ښهٔ
کارونه تباه کولے شى.

۱۰ ۱ څنګه چې مړهٔ مچان خوشبودار عطر خرابوى نو
داسې لږ شان کم عقلتوب ډېر حِکمت او عزت خرابولے
شى. ۲ د هوښيار سړى زړهٔ به صحيح لار غوره کوى او د
کم عقل سړى زړهٔ به خرابه لار غوره کوى. ۳ کله هم چې
کم عقل په لاره روان وى نو صفا پته لګى چې هغه بېوقوف
دے. ۴ کهٔ حکمران درته غصه شى نو خپل ځائ مهٔ
پرېږده، ځکه چې ستا سړه رويه د هغهٔ سخته غصه قلارولے
شى. ۵ ما په مخ د زمکې يو بل خراب څيز ليدلے دے او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا غلطي د حکمرانانو د لاسه کيږى. ۶ او هغه دا چې کم
عقل خلق په اوچتو عُهدو مقرر کړے شي او مالدار خلق په
معمولى عُهدو باندې وى. ۷ ما ليدلى دى چې غلامان د
شهزادګانو په شان په آسونو سوارۀ وى، او شهزادګان د
نوکرانو په شان پيدل ګرځى. ۸ څوک چې کنده کنى کيدے
شى په خپله وروغورزيږى، څوک چې ديوال راغورزوى
کيدے شى مار يې وچيچى. ۹ څوک چې د کاڼو په کان
کښې کار کوى، کيدے شى په کاڼو چخنې شى. څوک چې
لرګى ماتوى، نو کيدے شى چې په دې زخمى شى. ۱۰ کۀ
تبر پخ وى او تيرۀ يې نۀ کړې، نو په دې باندې کار کول ډير
زور غواړى. خو حِکمت سړے هميشه د کاميابۍ طرف ته
بوځى. ۱۱ کۀ د دم نه مخکښې مار پاړو وچيچى نو بيا د
پاړوتوب څۀ فائده نشته. ۱۲ د هوښيار سړى خبرې د هغۀ د
عزت سبب جوړيږى، خو د کم عقل سړى خبرې د هغۀ د
تباهۍ سبب جوړيږى. ۱۳ د هغوئ خبرې کم عقلتوب سره
شروع کيږى او خطرناک ليونتوب سره تر سره کيږى. ۱۴
د کم عقل کس خبرې نۀ ختميږى. هيچا ته دا پته نشته چې په
راتلونکى وخت کښې به څۀ کيږى، څوک دا وئيلے شى چې
زمونږ د مرګ نه پس به څۀ کيږى؟ ۱۵ کار سره کم عقل ډير
ستړے شى، او هغۀ ته دا پته هم نۀ لګى چې منزل ته خپله لار
پيدا کړى. ۱۶ افسوس په هغه مُلک چې د هغې بادشاه يو
ناتجربه‌کاره زلمے وى او مشران يې سم د سحر نه سر د
خيټې نه زار کوى. ۱۷ خوش قسمته وى هغه مُلک چې د
چا بادشاه چې د شريف خاندان نه وى او د هغوئ مشران په
مناسب وخت خوراک کوى. هغوئ د طاقت حاصلولو دپاره
خوراک څښاک کوى د نشې دپاره نه. ۱۸ کۀ يو کس دومره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ناراسته وی چې هغه خپل چت هم نۀ مرمت کوی، نو دا به
راڅاڅي او هغه کور به راوغورزيږی. ۱۹ د مېلمستيا روټۍ
د خوشحالۍ دپاره وی او مے د زړۀ راحت دپاره وی، او په
پېسو هر کار کيږی. ۲۰ په خيالونو کښې هم په بادشاه پسې
بدرد مۀ وايه او په خپله کوټه کښې هم په مالداره کس پسې
بدرد مۀ وايه. کېدے شی چې د هوا يوه وړه مرغۍ ستا خبرې
واوری او هغۀ ته يې وکړی.

## د انسان د عِلم حد

۱۱ ۱ خپله روټۍ په اوبو باندې وغورزوه چې لاړه شی
او هيرې ورځې پس به دا تا ته بيا مِلاو شی. ۲ خپلې پېسې
په اووۀ يا اتۀ ځايونو کښې بندې کړه، ځکه چې هيڅ پته نۀ
لګی چې څۀ افت به په زمکه باندې راپېښ شی. ۳ کله چې
وريځې درنې وی نو باران کيږی. کله چې ونه د شمال يا د
جنوب په طرف پرېوځی نو هم هلته پرته وی. ۴ هغه
زميدار څوک چې د هوا رخ ته ګوری هغه به خپل فصل نۀ
کَری. او هغه زميدار څوک چې وريځو ته ګوری هغه به خپل
فصل نۀ ريبی. ۵ لکه څنګه چې تا ته د هوا رخ نۀ
معلوميږی او نۀ درته دا پته لګی چې د مور په خېټه کښې
ماشوم څنګه جوړيږی، نو داسې تۀ د خُدائ پاک په کارونو
هم نۀ پوهيږې، څوک چې د هر څۀ خالق دے. ۶ د سحر
په وخت خپل تخم کره او تر ماښامه پورې په کار کښې
بوخت اوسه، ځکه چې تا ته څۀ پته ده چې په کوم کار کښې
کاميابي ده، په دې کښې، په هغې کښې او يا په دواړو کښې يو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان. ۷ رڼا ښۀ ده او د نوی سحر رڼا په سترګو ښۀ لګی.
۸ کله چې انسان تر ډېر وخته پورې ژوندے پاتې شی نو
هغوئ دې د ژوند هره لحظه خوشحاله تېروی. خو دا هم یاد
ساتل پکار دی چې د مشکل ډېرې ورځې راروانې دی. او څۀ
چې به کیږی هغه یو راز دے.

## د ځوانانو دپاره نصیحت

۹ اے ځوانانو، په خپله ځوانئ خوشحاله اوسئ او د
ځوانئ نه خوند اخلئ. او څۀ چې ستاسو زړۀ غواړئ او په
سترګو مو ښۀ لګی نو هغه کوئ، خو دا خبره یاده ساتئ چې
خُدائ پاک به درسره د هر کار او عمل حِساب کوی. ۱۰ د
خپل زړۀ نه خفګان او د وجود نه غم درد لرې ساتئ ځکه
چې ځوانی او تور سر د یوې لحظې دپاره وی.

۱۲ ۱ هم په ځوانئ کښې خپل خالِق یاد ساته، د هغې نه
مخکښې چې د مصیبت ورځې راشی، او هغه کلونه راشی او
تۀ پکښې ووائې چې، "د ژوند هیڅ مزه نشته." ۲ هغه یاد
ساته، د دې نه مخکښې چې د نمر، سپوږمۍ او د ستورو رڼا
تا ته تته ښکاره شی او د باران نه پس بیا وریځې راواپس
شی. ۳ د هغې نه مخکښې چې ستا د کور څوکیداران په
رېږدېدو شی، او ستا طاقتور سړی راکونتی شی، او ستا د
مېچنې کولو والا ښځې کار پرېږدی ولې چې هغوئ لږې دی،
او هغه زنانه چې د کړکو نه ګورې د هغوئ نظر کم دے. ۴
د هغې نه مخکښې چې د کوڅې دروازې بندې شی او د
مېچنې آواز په مزه شی، او تۀ د مارغانو په اولنو سندرو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راپاڅي خو بیا د هغوئ ټولې سندرې په تا په مزه لګی. ۵ د هغې نه مخکښې چې تهٔ د اوچتو ځایونو او د کوڅو د خطرو نه یرېږې. د هغې نه مخکښې چې ستا وېښتهٔ سپین شی داسې لکه چې د بادامو ګلونه کولاو شی، او تهٔ د پښو نه پاتې شې داسې لکه مُلخ پښې راکاږی، او ستا شهوت ختم شی. هغه یاد ساته، د هغې نه مخکښې چې ستا پښې په قبر کښې وی کوم چې به ستا ابدی کور وی، او کله به چې خلق ستا په جنازه کښې ویر کوی. ۶ د هغې نه مخکښې چې د سپینو زرو زنځیر وشلېږی، د سرو زرو لوښے ټوټې ټوټې شی، او چینې سره د اوبو بوقه به وشلېږی او د کوهی سَرخے ماته شی. ۷ بیا به خاوره واپس خاورې شی او روح به خُدائ پاک له واپس لاړ شی، چا چې هغه ورکړے وو. ۸ نو معلِم وائی، "هر څهٔ بېمعنې دی، دا هر څهٔ بېمعنې دی."

## نتیجه

۹ معلِم په خپله هوښیار وو او خلقو له یې هم د عِلم تعلیم ورکولو. هغهٔ په ډېرو متلونو باندې غور او فکر کولو او ترتیب وار یې جمع کړل. ۱۰ د معلِم کوشش دا وو چې خوږې خبرې ولټوی، او دیانتدارۍ سره رښتینی خبرې ولیکی. ۱۱ د هوښیارانو خبرې د تېرو چُوکو په شان دی، د جمع شوی متلونو خبرې د چُوکو په شوکه کښې د مېخونو په شان دی چې یو شپون یې د ګډو د بوتلو دپاره استعمالوی. ۱۲ خو زما زویه، د دې نه علاوه هم خبردار اوسه. د ډېرو کتابونو د لیکلو سلسله به هیڅکله نهٔ ختمېږی او ډېره مطالعه وجود ستړے کوی. ۱۳ راځئ چې اوس په آخر کښې د ټول تعلیم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خُلاصه باندې غور وکړُو. د خُدائ پاک نه یرېږه او د هغهٔ
په حُکمونو عمل کوه، دا په هر انسان فرض دی. ۱۴ ځکه
چې خُدائ پاک به راسره د هر یو عمل عدالت کوی، کهٔ هغه
ښهٔ وی او کهٔ بد او په دې کښې پټې څیزونه هم شامل دی.


pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.